الحمدُ لله الذي ردَّ كيدَه إلى الوسوسَةِ». يعنې الله ستر دى الله ستر دى، الله لره ستاينه ده چې د شيطان مكر يې د هغه وسوسې ته وروګرځاوه

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى چې وايي: يو سړى رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغى او ورته ويې ويل: اې د الله رسوله، زمور څخه يو تن په خپل ځان کې داسې څه ويني - داسې يو څه ورته په خيال کې راځي چې- دا ورته غوره ښکاري چې سکروټې او ايره شي خو هغه څه يې چې په زړه کې تيريږي - په خوله يې ونه وايي، نو هغه وويل: «اللهُ أكبرُ، اللهُ أكبرُ، الحمدُ لله الذي ردَّ كيدَه إلى الوسوسَةِ». يعنې الله ستر دى الله ستر دى، الله لره ستاينه ده چې د شيطان مكر يې د هغه وسوسې ته وروګرځاوه».

[صحيح دى] [ابو داود او النسائي په السنن الكبرى کې روايت کړى دى]

يو سړى رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغى او ورته يې وويل: اې د الله رسوله، زمونږ څخه يو تن په خپل ځان کې داسې څه حس کوي چې په خوله ويل يې ډيره لويه خبره ده، تر دې پورې چې ايره شي دا ورته ډيره غوره ده لدې چې په اړه يې خبرې وکړي. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم دوه ځلې الله اكبر وويل او د الله تعالى حمد - يې ادا کړ چې د شيطان مكر يې يوازې د هغه وسوسې ته وروګرځاوه ـ يعنې له وسوسې پرته نور هيڅ نشي کولای .

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65012